مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۱۹/۱۲/۱۶

# ایا پارتیان، ساکان او اسپه زیان تربوران ول؟

هېرودت Herodotus (۴۸۶ – ۴۲۶ م ز) د لرغوني افغانستان د یو شمېر قومونو یادونه په خپل نامتو اثر چې په لندن کې ژباړل شوی او خپور شوی دی کړې ده چې ډېر پخوا په افغانستان کې مېشت او ودا ن ول.
نوموړي تاریخپوه چې د تاریخ پلار ګڼل کېږي د اپریتي = اپارتي ، باکتریا) باکتر = باختر(Bactrian's ، پکتیکا (Pactyica)او پختویس (پکتویس) نومونو یادونه کړې چې د پام وړ ګڼل کېږي.
د لرغونو اریایانو په لرغوني کتاب ریګویدا کې د پني، بریسا (بریځ) پروته یادونه هم شوې ده. په مهابارانا کې چې په سنسکرت ژبه کښل شوی دی د اسواکا یادونه هم شوې ده او د هېواد د تاریخپوه احمد علي کهزاد اسواکا یا اسواغانه د سنسکرت ژبې یوه ترکیبي کلمه ګڼلې چې د آس او مکان مانا لري. دلته د آس کلمې یادونه وشوه، د دې کلمې په اړه باید وویل شي، هغه مهال چې په باختر کې اسپه کورنۍ واکمنه وه، دغه بخدي واکمن د دلهرا اسپه، وشتاسب، ګرشاسپه (غرشاسپه) او داروت اسپه په نومونو یاد ړ شوي دي.
ګرشاسپه (غرشاسپه) چې په اووم نسل کې د قومونو د شجرې له مخې فریدون) په اوستا کې تري تونا traitona را غلی دی (ته رسېږي .ولې فریدون بیا په لسم پښت کې یما ته ځان رسوي چې ګرشاسپه (غرشاسپه) کورنۍ د زابلستان واکمن تېر شوي دي. خو غرشاسپ (ګرشاسپ) د پېشدادیانو کهول ګڼل شوی دی.
په اوستا کې د ده پلار تریته Tritta په ګوته شوی دی. نوموړی د هېواد په لرغوني تاریخ کې هغه څوک دی چې له سوما (هوما) څخه یې زوخا جوړه کړې ده.
همدارنګه د زرتشت پلار پوروش اسپه هم خپله شجره د اسپه کورنۍ پورې تړي.
نامتو لرغون پوه «ارین» د سوات او باجوړ وګړو په دله کې د اسپه زي aspazi تېر یادونه کړې ده.
وروستیو څېړونکو دغه وګړي یوسف زي ګڼلي دي.
یو بل نامتو لرغون پوه ستراپون اسپه زي (هپه سي) په نوم یاد کړي دي. خو سراولف کېرو په پټانز نومي کتاب کې دغه دواړه یادي شوې کلمې یوه کلمه بللې او د اسپه زي معرب یې اوسني یوسفزي ګڼلي دي.
»پوهاند جاوېد هم اراکوزیا (یا اراخوزیا) الکوزی، ساکزي، سهاک (ساک) او ادا ډول نور نومونه یو د بل سره ورته ګڼي( )
که چېرې ساک زي، سهاک، ضحاک یو شی وګڼل شي نو د دې کلمې ریښه ښايي ساک = ساکا وي او که داسې وي نوساکا (ساکان) کلمه په هخامنشي دبرلیکونو کې د saka په بڼه انځور شوې ده. چې په تورات کې اشکوز = اشکناز، په یوناني متونو کې Skuthoi یاده شوې ده.
له دغو څرګندونو نه برېښي چې د هېواد په لرغوني تاریخ کې ساک (ساکان چې له مخزبړدي او زبړدي پيریو کې واکمن وه) اوسني سهاک، اپریتي اوسني اپریدي، بختیان اوسني پښتانه (پختون= پښتون)، ستاګېدي اوسني ختک، ګنداریان (ګندهارا) اوسني کنداریان او نور یادولی شو.

تازیان اندری حصاری قافله در قافلـــه
بختیان اندر صحاری کاروان در کاروان

(مسعود سعد سلمان)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پختګان بر چون بختیان افتان و خیزان مست شوق
ني نشانـــي از مي و ساقـــي و مـي دان دیده انـد

بختیـــان نفس مـن کـــــه جـــرس دار شـــونـد
از دهـــــان جرس افغـــان خــــراسان یـــابــــم

(خاقاني)

نامتو ختیځ پوه برنارډ دورن هم لکه د یو شمېر نورو ختیځ پوهانو په څېر د پښتنو په اړه اوږدې څرګندونې کړې دي او په پای کې د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې پایلې ته رسېدلې چې پښتانه (دورن د افغانانو تاریخ۷۲مخ) دهندو اروپايي ولسونو د هغې ستړې کورنۍ غړي دي چې لرغونی تاریخ لري. جورج روز بیا د خپلوڅېړنو پدغه اړخ ټینګارکوي چې پښتانه (وګورۍ روزجورج د شرق سلطانان۷۹مخ) دیوه خپلواک اولس په توګه په هغو سیمو کې ژوند کوي چې ټول ملي او سنتي روایتونه یې خوندي کړي دي. نوموړي ادا هم پخپل نامتو اثرکې لیکلي دي «پښتانه د فارس سلطانان ول او په کلونو کلونو یې پر هند واک چلولی دی.»( )
یو بل نامتو تاریخپوه برون Brown چې د ایران په تاریخ یې ډېرې څېړنې کړې دي کاږي: «د غور واکمن ټبر د فېروز کوه د غره اوسېدونکي پښتانه دي( )».
تامسن ولیم بیل Tamsun – W – B د واکمنو پاچاهانو ټبر د غوري افغانانو د ټبر پاتې شوني ګڼي. ولې بیلو په ځغرده ویلي دي چې ادا کلمه اریایي ده.
افغان تاریخپوه میر غلام محمد غبار کښلي دي چې پاکت یان یعني پښانه د پاختیا په غرونو کې خواره شول. ځنې د بودیزم پلویان ول او ځنې بیا د زرتشت پلویان.
پوهاند حبیبي لیکلي دي: «ساکان چې ګرځنده یو کوچي ټبر و د امو سوېل ته د باختر په سیمو کې له پکت – پښت او پښتنو سره ګډ شول د ساکه نوم یې په دغه پښتنو کې پرېښود.»( )
د دغه اند په هکله یوې ژورې څېړنې ته اړتیا ده چې آیا ساکان له پښتنو سره ګډ شوي دي او که پښتانه له ساکانو سره؟
له دې مهمه لا دا ده چې پښتانه د ساکانو زوزات دي او که ساکان د پښتنو ټبر یوه ساکي څانګه ده؟
دریمه پوښتنه لا دا کېدی شي چې دغه دوه لرغوني ټبرونه پخپلو کې نږدې تربوران دي او که یو د بل اولاد ده؟
هره خبره چې وي وییه خو د ساک، ساکا، سهاک، ساکزي، اسحق زي، ساکان، افغانان او په ټوله کې د پښتنو د قومونو په شجره کې ساک زي او سهاک دوه نامتو قومونه دي چې د افغانستان په ډېرو سیمو کې مېشت او ودان دي. زما د پوهې له مخې ساکان د اوستایانو، پارتیانو، مادیانو او پارسیانو تر څنګه پنځم اریایي ټبر ګڼل کېږي. ولې ساکي کوچي ټبر او پاکت یان (پاختیان = پاکتانه = پختانه) د تاریخ په اوږدو کې ډېر نږدې اوسېدلي دي. ښایي په دې بنسټ سره دغه دواړه ټبرونه د یو پلار اولاده وګڼو. په دې اړه ډېره کره او غوښنه څېړنه،چې دپارتیا نو،پکتیانو،مېدیانواوپه ځا نګړي دول دسا کانوپه هکله چا کړې ده، هغه پو ها ند استاد زیار دی اوداسې کا ږلي دي «دا سې هم نه وه چې سا کانویوازې سوبې کولې اوسترې تولواکمنې یې جوړولې،بلکې دهنر او پوهې څا وندا ن هم وو...»(پښتواوپښتانه...۱۲مخ)
ساکان د هندو اروپايي وګړو یوه څانګه ده چې په اوستا کې یې توریا (ښایي اوسنی مانا یې تورزن وي) بولي. نامتو ختیځ پوه برنارډ دورن کښلي دي: «پښتانه د هندو اروپايي وګړو څخه یو لرغونی ټبر دی چې لرغونی تاریخ لري )».
اثوریانو پخپل مهال ساکان «اشکوزي» بللي دي. د تېرو څرګندونو له مخې که چېرې موږ د ساک (سهاک) او ساکي ریښه یوه وګڼو بیا خو په تورات کې د ویته اشکوز (اشکناز) ویل شوي دي چې اوس موږ په یوناني متونو کې دغه کلمه د Skuthui په بڼه لیدلی شو.
هخامنشیانو بیا ساکان بللي دي او د بیستون په ډبرلیک کې سکاسم (اوسنی بڼه شکاشم) یاد شوي دي.
ډېرو څېړونکو د ساکانو استوګنځی د واکمنی په مهال غور، سیستان او یو شمېر نورې سیمې ښودلې دي او همدارنګه پښتانه هم په بلخ، غور، سیستان، فراه، غزني او د کابل په شاوخوا کې استوګن ول. همدا لامل دی چې پښتانه په ویدا کې د پکتاس په نوم، هیرودت د پکتیان په نامه او بطلیموس د پکتین په نوم یاد کړي دي.
همدا راز د پښتو ژبې نامتو څېړونکي جورج مارګنسترن د تاریخي او مقایسوي ژبپوهنې له مخې چې نوموړی ډارمستر نه وروسته پدې برخه کې لوړ مقام لري لیکلي دي: «پښتو په ختیځې ایراني ژبو کې د ساکانو لرغوني ژبې ته دومره نږدې بولي، چې وا یي پښتو د ساکایو ه لهجه ده.»( )
که چېرې موږ پښتو د ساکي ژبې یوه لهجه وبولو نو بیا خو پښتو ژبه لږ تر لږه دوه زره کاله پخوا معموله وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا به ډېره ګرانه وي چې د پښتنو د اصلي ټاټوبي په اړه وویل شي چې دوی لومړی چېرته ودان ول؟ ولې کورني او بهرني څېړونکي په دې اند دي چې د پښتنو لومړی ټاټوبی لکه د نورو اریایي قومونو په څېر بلخ دی. لکه د تاریخپوه غبار خبره که چېرې پاکت یان (پاکتانه = باختانه) اوسني پښتانه وي د دوی اصلي ټاټوبی باختر دی.
«سوریان د خراسان او غور د افغانانو یو ټبر وه چې تر اوسه هم د هرات شمال لوېدیځ د بادغیس د زور آباد (سور آباد) په شاوخوا کې د زوري (سوري) په نامه استوګن دي.»( )
د پښتنو د شجري له مخې د سوري کورنی له نومیالو څخه یو هم د خرنک زوی شنسب وه چې د منهاج السراج په قول دحضرت علي همهالی وه دده په وخت داسلام دین ومانه. دی لومړنی حکمران وه چې له ده نه وروسته د ده اولاده امیر فولاد غوري (سوري) پر تخت کېناست.
نورو څېړونکو او شجره کښونکو هم د سوریانو په اړه ډېره څه لیکلي دي او دې پایلې ته رسېدلي دي چې دوی د لودیانو له پښته دی او اصلي ټاټوبی یې غور وه.
له لودي او سوري ټبر نه زموږ د هېواد په تاریخ کې ډېر نومیالي پېژنو چې نه یوازې په افغانستان کې واکمن ول بلکې له هېواد نه بهران دهند په نیمه وچه کې هم ټولواکمني چلولي ده چې موږ دشنسب له اولادې نه امیر فولاد غوري، امیر کروړ سوري، شیخ حمید لودي، نصر لودي، امیر سوري، امیر محمد سوري، امیر بوعلي د محمد سوري زوی او نور د بېلګې په توګه یادولی شو.
«ابو المظفر معزالدین محمد بن سام قسیم امیرالمؤمنین هم د ختیځ او الی شنسب پاچا وو.»( )
د دغې کورنی یو ستر واکمن غوري شهاب الدین و، چې د خپلې ټولواکمنی لمن یې ان د هند تر نیمې وچې پورې وغځوله.
د همدې لړی په بنسټ لودي بهلول، لودي سکندر، لودي ابراهیم، سوري شېرشاه، سوري سلیم شاه او په سلګونو نورو نوابانو او د پښتنو مشرانو د هند په نیمه وچه په مرکزي او سیمه ییزه کچه حکومت کړی دی.
همدارا ز د افغانستان په معاصر تاریخ کې له میرویس نیکه نه وروسته محمود هوتک او شاه اشرف هوتک نه یوازې د افغانستان واکمن وه بلکې د خپلې ټولواکمنی لمن یې ان د ایران تر اصفهانه پورې وروسوله.
احمد شاه ابدالي چې په ۱۷۴۷م کال په تخت کېناست نو د خپلې واکمنی د پراختیا او پرمختیا لپاره یې متې را ونغاړلې او د یوې لویې ټولواکمنی بنسټ یې کېښود.

- ترې پوهاند حبیب الله پښتانه ۴۶ مخ.
- د افغانستان لنډ تاریخ ۱۷۱ مخ.
- حبیبي پوهاند عبدالحی د افغانستان لنډ تاریخ ۱۸۱ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ